**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

سلام جان ۲۰۱۰/۱۲/۲۳

# ایران هم لږترلږه هومره خطرناک دی لکه چې پاکستان دې




له کابل څخه واشنګتن ته په مخابره شویو اسنادو کی د افغانستان په چاروکی د ایران مداخله او نفوذ ډیر پراخ بلل شوی دي، د ویکی لیکس په اسنادو کی په افغانستان او اروپائی هیوادونو کی د امریکا د سفارتونو څخه و واشنګتن ته په مخابره شویو راپوروونو کی ویل شوي دې چی د افغانستان د کابینی، پارلمان ځیني غړی، په بهرکی ځینی مهاجر میشت با نفوذه افغانی شخصیتونه او په بهرکی د اسلامی، کلتوری او فرهنګی ټولنو ځینی مشران د ایران استخباراتو ایجنتان او معاش خواره دې، د ایران د حکومت د خاصو ځانګو له لوري هغوی ته په داخل او بهر کی په پټه ځانګړې وظایف سپارل کیږي او هڅول کیږي ترڅو د امریکا پر ضد د افغانستان په داخل او بهر کی د مهاجرینو په مینځ کی ناوړه تبلغات وکړي او خارجی فوځونه په افغانستان کی د بیګناه خلګو په مر ګ او ژوبلی ملامت وګڼي، ځینی وختونه د دغه هدف په منظور د هیواد په داخل په لیری اطرافو او د هیواد بهر په افغانی مهاجر میشتو ښارونو کی خلک وپراخو مظاهیرو او میټینګونو ته د مختلفو نومونو په استفاده را غونډوې او د امریکا پرضد شعارونو ته ئی تشویقوي. د ویکی لکس په اسنادو کی داهم راغلي دي چه په ځینو اروپایی هیوادونو کی د ایران د سفارتخانو ځینو دیپلوماتانو د افغانانو په صفت او لباس کی په مظاهرو او میټینګونو کی په مستقیمه توګه برخه اخیستی ده، د ایران د حکومت د لاسوهنی په باب راغلی دې چی د خینو افغانی لیکوالانو په نامه مقالی او مضامین د امریکا د سیاست پرخلاف د ایران په د ننه کی تهیه او ترتیب کیږي او هغوی ته د بریښنا لیکونو په ذریعه لیږلی کیږي او وروسته په انترنیت او ځینو ځانګړو ورځپانو کی نشر ته سپارلې کیږي. د ایران د لوری په امریکا او اروپا کی ځینی اشخاصو ته د پیسو په مقابل کی مشخصه دنده ورسپارله شوی ده تر څو د ځینو افغانی او ایرانی تلویزینو په ځانګړو پروګرامو کی په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه برخه واخلی او د امریکی د سیاست برخلاف خپل آواز د عامو خلکو تر غوږو ورسوي ترڅو امریکا په ملی او بین المللی سطح بدنامه شي.

د ویکی لکس په یوه بل سند کی د افغانستان د هماغه وخت د بهرنیو چارو د وزیر داکتر رنګین دادفر سپنتا له خولی ویل شوي دې چی ایران هم دومره خطرناک دي لکه چی پاکستان دې، نوموړی مطلب د ۲۰۰۷ کال په اګست کی ښاغلی داکتر رنګین دادفر سپنتا د امریکی د بهرنیو چارو مرستیال وزیر ریچارد بوچر ته ویلی وو چی دده حکومت باید د پاکستان له لوری د باغیانو د ملا تړ لوی خطر ته توجه وکړی او له ایران سره مخالفت نه شی زغملی.

سپنتا وویل: موږ له امریکا او برتانیا سره موافق یو چې ایران ډېره لاس وهنه کوي، خو موږ لېواله یو چې له ایران سره احتیاط وکړو او د افغانستان په سرحدونو کې بله جبهه پرا نه نیزو سپنتا په یو بل ځای کې بیا امریکایي مقاماتو ته ویلي چې دی باور لري چې ایران هم لږترلږه هومره خطرناک دی چې پاکستان دی. ده همدا راز ادعا وکړه چې دا مسله یې د ایران ولسمشرمحمود احمدي نژاد ته هم ورياده کړې ده.
سپنتا همدا راز وویل : « ما دا موضوع د ایران له بهرنیو چارو وزیر سره یاده کړه او هغه راته وویل چې دی په دې قضیه کې دخیل نه دی خو ویې ویل چې دی په دې کې شامل دی چې په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو ملاتړ وکړي.

ګارډین برتانوی ورځپاڼې هم د ویکي لیکس له لوري د امریکا د بهرنیوچارو وزارت د افشا کړیو اسنادو پر اساس په خپل یوه راپورکی لیکلی دې چې ایران یو شمېر افغان سیاسي مشرانو، د ولسي جرګې غړیو او مذهبي مشرانو ته معاش ورکوي، افغان مذهبي مشران روزي او طالبانو ته ترینڼګ ورکوي. په دې سندونو کې همدا راز راغلي چې د کرزي د حکومت یوه جګپوړي مقام ، په دی وروستیو کې یې په خپله وویل چې له ایرانه یې د پیسو کڅوړې ترلاسه کړي او د امریکا یوه لوړ رتبه دیپلومات ته ئی وویل چې ایران د کابینې د یوشمېر نومول شویو وزیرانو په شمول د افغانستان د حکومت د مختلفو سطحو مقاماتو ته منظم معاش ورکوي.

عمر داوودزي د فبروریٰ په میاشت کې، چې لا کرزي ته د ایران د پیسو د کڅوړو د ورکولو خبره نه وه افشا شوې،


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاریٰ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په کابل کې د امریکا مرستیال سفیر ته وویل : پر دې سر بېره چي یو شمېر افغان مذهبي مشران د ایران تر اغېز او نفوذ لاندې دي، دا هیواد د افغانستان د حکومت مرستیال وزیرانو، رئیسانو او حتي ځو مقاماتو ته چي په ارګ کې کار کوي، معاش ورکوي.
داوودزي دا ادعا هم کړې وه چي ځیني مقامات له چوکیو په دې خاطر لېري شول چي افغانستان ته وفاداره نه دي ځکه چي له ایرانه پیسې اخلي.
داوودزي د امریکا د سفیر مرستیال ته ویلي وو چي د افغانستان حکومت د ایران تر غیرمنظمو او نامطمئنو پیسو د امریکا دوامدارو مرستو ته ترجیح ورکوي.
ده همدا راز ویلي وو چي ایران په خپله خاوره کي افغانان روزي چي له طالبانو سره یوځای په افغانستان کي وجنګېږي او په زرګونو افغان ملایانو او مذهبي مشرانو ته معاش ورکوي او دا ټولي چارې د ایت الله خامنه يي په دفتر کي د یوه مقام له لوري تنظیم کېږي.

له امریکایي دیپلومات سره د داوودزي پر خبرو سربېره د ویکي لیکس له لوري د امریکا په ګڼو نو رو افشا شویو سندونو کې د ایران نفوذ او د خپل ګاونډي په وړاندې، چي پیسي ورکوي، د کابل د حکومت بې کفایتي ښودل شوې او ویل شوي چي ایران پر حکومتي چارواکو سربېره د افغانستان د شورا غړیو ته رشوت او وسله والو طالبانو ته وسلې ورکوي.

د ویکي لیکس له لوري په خپرو شویو سندونو کي ویل شوي چي د ٢٠٠٧ کال په وروستیو کي د پالیسی په برخه کي امریکا د بهرنیو چارو مرستیال وزیر ایریک ایډلمن کرزي ته وویل چي د ایران لاسوهنه او یاغیانو ته د وسلو ورکړه مخ په زیاتېدو ده.

دا خبرداری په داسي حال کي ورکړله شوه چي طالبانو ته د ایران په خاوره کي د یوځي روزني د کمپونو، د چاودونکو موادواو وسلو، منجمله د اوږو د یوډول له مځکې څخه هوا ویشتونکي توغندیو د ورکولو راپورونه خپاره شول.

په سندونو کي همدا راز ویل شوي چي کرزی هم په دې باور لري چي ایران د افغانستان د پرمختګ د مخنیوي هڅه کوي ترڅو افغانستان د سیمې پر یوه مهم ترانزیتي مرکز بدل نه شي او له بلې خوا د افغانستان له لارې د ترکمنستان د ګازو د انتقال نل لیکه تېره نه شي.ایران د افغانستان د ولسی جرګې غړی د امریکا پر ضد هڅوي . په یوه بل راپور کي، چي په ٢٠٠٩ پوري اړه لري، خبرداری ورکول شوی چي ایراني مقامات د افغانستان په شورا کي پر له پسي د ولسي جرګې غړي هڅوي چي د لوېدیځوالو خلاف پالیسیو ملاتړ وکړي او په خپلو غونډو کي امریکا ضد مسایل مطرح کړي.

د ولسي جرګې د مرستیال میرویس یاسني له قوله ویل شوی چي د ایران استخباراتي مقام پرې فشار راووړ چي د ولسي جرګې په بحثونو کي د امریکایي ځواکونو له لوري د ملکیانو د مرګ ژوبلو مسئله په اجندا کي شامله کړي.
ده ته یې دا هم ویلي چي که دا کار یې وکړ نو ایران به یې ملاتړ وکړي. خو کله چي یاسیني له دې موضوع سره مخالفت وکړ دوو نورو وکیلانو دا موضوع راپورته کړه.

په سندونو کي ویل شوي چي د ایران له لوري له دې ټولو لمسونو او د امریکا له فشارسره سره د افغانستان حکومت نه غواړي چي په ښکاره ډول د ایران د مداخلې یادونه وکړي.

پای

یادونه: پورته مطلب د ویکی لکس د ترجمه شویو اسنادو څخه د مطالعی وروسته ترتیب شوي دي


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالېږلو مخکې په ځیر و لولـئ